# د ارواښاد جنرال عصمت الله میر کی د مړینی د لمړی کلیزی و یاد غونډی ته د خواخوږی ادبی او کلتوری ټولنی پیغام

نیټه: ۲۰۱۲/۲/۲۴ – ۱۳۹۰/۱۲/۵
کابل افغانستان

درنو دوستانو!

لکه څرنګه چي فاني نړي په تلو ده او د خداي (ج) له ذات څخه پر ته ټول شیان فنا کیدونکي دي. خو د ولسونو ریښتیني استازي، علمي، پوهنیز او پوځی خدمتګاران د ولسونو په زړونو کي تل ژوندي پاته کیږي. تاریخي کارنامي یي په زرینو کرښو لیکل کیږي. چي زموږ په ګران هیواد کي یو د هغو لوړو شخصیتونو څخه ارواښاد جنرال عصمت الله میر کی دی چی د افغانستان په سیاسي، پوځی او امنیتی نیمه پیړي تاریخ کي یي په پرهیزګاري، ایمانداري او ریښتینتیا نه ستړیکیدونکي زیار ایستلي ؤ.

ارواښاد جنرال میر کی د ښواخلاقو، منطق خاوند، حلیم، متواضع او زړه سواند شخصیت،چي د هیواد په سیاسي ډګر کي دزورواکو خلاف، په ولسواکي هوډمن او زړه ور مبارز ؤ.

ارواښاد جنرال میر کي د لوړو زده کړو خاوند او کلونه کلونه د هوائي او هوائي مدافع قوا په لوي قوماندانی، د کابل د امنیي مرستیال قوماندان، د کندهار د امنیي قوماندان، د کورنیو چارو وزارت د مخابري د رئیس په توګه په ډېره سپیڅلتیا او صداقت چاري تر سره کړي او وروستیو کلنو کې په جرمني کې د کډوال ژوند شپي سبا کولي.
ارواښاد د کډوالی په ژوند کی آرام ندی کښینستلی، به افغانستان کی د سولی د ټینګښت او ثبات لپاره تل مبارزه یی کړی ؤ چی یادونه یی ژوندی او تل پاتی دی.

بسم الله الرحمن الرحیم

د خواخوږي ادبي او کلتوري ټولنه په داسي حال کي چي د ارواښاد جنرال میرکی د یاد غونډې د جوړیدو ستاینه کوي، د ارواښاد محترمی کورنی ته یو وار بیا د خواشنی او خواخوږی مراتب وړاندی کوی، ارواښا جنرال صاحب ته د لوی خدای (ج) د دربار څخه جنت الفردوس، کورنی او دوستانو ته جمیل صبر غواړی.

اروا یي ښاده او یاد یي تل!

**الحاج غرزي خواخوږي**
**د خواخوږي ادبي او کلتوري ټولني مشر**